## مطبوعاتي بيانيه

## "په افغانستان ک د و په واند د زور زياتي د لومني ديتابيس په اه د رپو د خپريدو مراسم "

"د د لوی لامل چ مون د و په واند د زور زياتي مستند پی د هيواد په سهيل ختی ک په واک ک نلرو، دا د چ مون هی يوه ه د کور ه بهر نه وينو. په عمومی توه، نشي کولای چ د خپلو کورونو خه بهر ولا شي او له همد کبله نشي کولای حکومتي شعباتو او نورو موسسو ته لاره پيدا کي. په د توه مون نشو کولای پی مستند کو، مر هغوی يله کوي چ د و په واند زور زيات د هغوی په اونده سيمو ک يو ستره ستونزه ده "- د افغانستان په سهيل ختی ک د يوناما د بشري حقوقو مسوول.

**د ۲۰۰۸ کال د مارچ د مياشت اتمه نیه:** د ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت، د ښځو چارو وزارت د يونيفيم په مرسته د ښځو په وړاندی د زور زياتي اړونده رپوټ د شنبې په ورځ د ۲۰۰۸ کال د مارچ د مياشتې په اتمه نيټه خپروي او د ټولو په واک کې يې ورکوي.

په افغانستان کې د ښځو په وړاندی د زور زياتي وضعيت تر ډيره حده د خپګان او انديښنې وړ دی ځکه چې د هيواد د اوسيدونکو ستره برخه د خپلو حقه حقوقو څخه ناخبره دي. جګړه او اقتصادي ستونزی په ټولنه کې د زور زياتي د کچې د زياتوالي سره مرسته کوي چې دا په خپله د ښځو او نجونو په چال چلند باندی اغيزه کوي. په تيرو پنځو کلونو کې، د ښځو په وړاندی د زور زياتي په اړه معلومات د داستان ډوله شواهدو او لنډو کيسو په ډول کې راټوليږي. همدارنګه، پاليسی، قوانين او پروګرامونه چې موخه يې د ښځو اړونده ستونزو او مسايلو حل کول دي، کم او بې اغيزی دي.

په افغانستان کې د يونيفيم دفتر د ښځو په وړاندی د زور زياتي په اړه څيړنه تر سره کړيده چې بنسټ يې هغه دوهمه درجه اطلاعات جوړوي چې د ۲۰۰۶ کال د مې په مياشت کې خپاره شو. د دوهم تحقيق سره څنګ په څنګ، يونيفيم د ښځو چارو وزارت په مرسته د ښځو په وړاندی د زور زياتی په اړه د لومړني ديتابيس بنسټ کيښود تر څو د پيښو په اړه هر اړخيزه اطلاعات راټول او چمتو کړي. نوموړی ديتابيس په امتحاني توګه د هيواد په دريو ولايتونو کې تطبيق شو او د وروستيو څلورو مياشتو په ترڅ کې د نوموړی ديتابيس څخه ګټه اخيستنه د شپږو ولايتونو څخه ۲۱ ولايتونو ته وغزيده. دا لومړني ديتابيس په کمي توګه اطلاعات چمتو کوي چې وروسته بيا د بيلابيلو پيښو د څيړنې له لياری چې يوناما يې ترسره کوي، مستند کيږي او هغه زور زياتي انځوروي چې افغاني ښځې متاثره کوي. نوموړی ديتابيس همدارنګه د پيښو د ماهيت او د زور زياتی د قربانيانو او مرتکبينو د ژوند ليک په اړه څرګند تصوير وړاندی کوي. همدارنګه دا رپوټ د ښځو په وړاندی د زور زياتي د پيښو په اړه په رپوټ ورکولو کې د مطبوعاتو او خبري رسنيو په رول او د دی مسالې په اړه د خلکو په پوهاوي باندی رڼا اچوي او د هغو پيښو د ماهيت او محتوی په اړه معلومات چمتو کوي چې د ۲۰۰۷ کال د فبروری او نومبر د مياشتو تر مينځ زماني واټن کې د مطبوعاتو او خبري رسنيو په مټ خپاره شويدي.

هغې موسسې او اداری چې په دی پروژه کې شاملې دي، په لاندی ډول دي: د ښځو چارو، کورنيو چارو، عامې روغتيا، او پوهنې وزارتونه، د ښځو شوراګانې، ولايتي شورا، د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون، د ارجاع مرکز، د ماشومانو د ملاتړ موسسه، د حقوقي مرستو وړاندی کوونکي او د يوناما دفتر. ځينې نوموړی موسسې او اداری تخنيکي او لوژستيکي مرستې چمتو کوي په داسې حال کې چې نوری يې هغه پيښې د ديتابيس په فورمه کې ثبتوي د کومو په اړه چې رپوټ ورکړل شويدی.

د ۲۰۰۶ کال د مې د مياشتې څخه د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر تر مياشتې پوری، د ښځو په وړاندی د زور زياتي ۱۰۱۱ پيښې په دی پروژه کې د شاملو موسسو او ادارو په لاس ثبت شويدي. دا بهير په ګوته کوي چې د قربانيانو ستره برخه ( په سلو کې ۵۴) د ۲۶ کلنۍ څخه د ټيټ عمر لرونکي دي چې په دوهمه درجه کې هغه نجونې ځای لري چې عمرونه يې د ۱۶ کالو څخه ټيټ دي او د قربانيانو په سلو کې ۹ برخې جوړوي. دا رقم د ادعا شويو قربانيانو د مدني حالت سره اړيکه لري ځکه چې ډيری هغه پيښې چې د ۷ او ۱۵ کلونو تر مينځ د عمر لرونکو کسانو په اړه دي او رپوټ يې ورکړل شويدی، د ماشومتوب د دوری او د وخت څخه د مخکې ودونو سره اړيکه لري. په سلو کې په ۲۰ ثبت شويو پيښو کې د شکايت کوونکو عمر ته اشاره نده شوی. د ښځو په وړاندی د زور زياتی لومړني او دوهم ديتابيس د دی ښکارندوينه کوي چې په ډيرو حالاتو کې د ښځو سره د هغوی خپلوان او نږدی کسان د زور زياتي څخه کار اخلي. احصاييه او ارقام ښيي چې د ښځو په وړاندی د زور زياتي په سلو کې ۹ پيښې د ښځو د خپلو کورنيو د غړيو، د هغوی د ميړونو، د خسر د کورنۍ د غړيو، او د هغوی د ميړني نارينه خپلوانو په لاس تر سره کيږي.

د لا زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه په لاندی پته اړيکه ټينګه کړی:
( ګل غوتی اعظيمی د ښځو چارو وزارت احصائيه مدير 0799014321)